## مطبوعاتي اعلامیه

# د کارټرپور بندر د پرانېستې مراسمو ته د من موهن سینګ رابللو یو ځل بیا ثابته کړه، چې له ټرمپ او مودي سره د باجوه ـ عمران رژیم یووالی له هر څه لوړ دی

اوسني راجه دایر د هند د پوځ له مشر جنرال باپان راوټ سره یو ځای د کشمیر مسلمانان شاوخوا دوې میاشتې یرغمل کړي وو، چې د کنټرول له کرښې ازاد کشمیر ته را تېر نه شي. په داسې حال کې چې ملکي وګړي او عسکر نږدې هره ورځ د دغې کرښې لپاره د هندي پوځ له لوري له توپیر پرته د ډزو او هاوان د مرمیو له امله قرباني ورکوي. د دې پر ځای چې محمد بن قاسم په وسله وال ځواک کې رابنکاره شي او د هند په مستعمره کشمیر کې مظلوم مسلمانان ازاد کړي، د باجوه ـ عمران رژیم په یوه نازک حالت کې خپله خاینه څېره ښیي او د کارټر پور بندر د پرانېستې مراسمو ته د هند پخوانی لومړ وزیر من موهن سینګ را بولي. د باجوه ـ عمران رژیم چې کله د هند له بې رحمانه یرغل سره مخ شي، خپل منافقت ښکاره کوي او د امت د غوښتنو په پام کې نیولو سره سمدلاسه یوازې زموږ اصیل مسلمان لښکر چمتو کوي. رژیم یوازې د سینګار په څېر ظاهري کړنې کوي، د یو خبریال په څېر د یووالي لپاره دېرش دقیقې درېږي او د تش په نامه «نړیوالې ټولنې» د ظلمونو هغه خبرونه تازه کوي، چې په مستعمره کشمیر کې ترسره کېږي. دوی داسې خبرونه خپروي چې ګواکي د «نړیوالې ټولنې» تش په نامه اتلان د هند له ظلمونو څخه خبر نه دي او په هېڅ ځای کې له مسلمانانو سره په ظلم کې ښکېل نه دي!

رژیم د نړۍ په کچه د اټومي ذخیرې او شپږم ستر پوځ قومانده پر غاړه لري، چې د شهادت هیله من دي، خو دوی بیا هم خپلو مشرانو ټرمپ او مودي ته د تابع کېدو لپاره نوی معیار جوړوي. د مسلمانانو د خلاصون لپاره د هر ډول ګام پورته کولو پر ځای، رژیم د غابښونو بې مانا تمرینونه وکړل، ته به وایې چې ټرمپ او مودي ته دا ډاډ ورکوي، چې دا عمل یوازې د کور د ننه غوسه ناکو خلکو د ارامولو لپاره کېږي. رژیم هند ته د خپلې فضا د بندولو په اړه په زړه پورې نه و او د هند د سفارت د عملیاتو د بندولو لپاره یې هېڅ ګام پورته نه کړ. په عین وخت کې، غدار رژیم د اقتصادي کړکېچونو له لارې د غیر فعاله کېدو لپاره یو غلچکی کمپاین پیل کړی دی. په داسې حال کې چې د باجوه ـ عمران رژیم د لوېدیځ سرحد په اوږدو کې د بېوزلۍ تر شا پټېږي. د افغانستان مقاومت چې د پاکستان داخلي ناخالص تولید له لسمې برخې څخه لږ دی، امریکا یې په ګونډو کړې ده؛ په داسې حال کې چې د دوی داخلي ناخالص تولید له ۱۹ ټریلیون څخه ډېر دی. د ټرمپ او مودي پیروي نه یوازې د دې لامل شوې چې رژیم په ښکاره ډول د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له حکمونو څخه سرغړونه وکړي، بلکې د دوی کمزوری غبرګون د سټراټیژیکو ملي ګټو لپاره د امنیت خطر

گرځېدلی دی. د کشمیر موضوع یوازې د بشري حقونو موضوع نه ده، بلکې دا د اسلامي امت د زړه خبره ده. رژیم له هندي مشرکینو او صلیبیانو سره د یووالي په ساتلو کې اخرت پرېښود.

د پاکستان د وسله والو ځواکونو مومن افسران باید مخ پر وړاندې گامونه واخلي او حزب التحریر ته نصرت ورکړي، ترڅو د نبوت پر تگلاره خلافت، د پاکستان د وسله والو ځواکونو زمریان ازاد کړي او په پای کې مسلمانان وژغوري.

الله سبحانه و تعالی فرمایلي:

**﴿الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا﴾**

[النساء:۷٦]

***ژباړه:*** *کومو خلکو چې د ایمان لاره غوره کړې ده، هغوی د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جنگېږي او کومو کسانو چې د کفر لاره غوره کړې ده، هغوی د طاغوت (شیطان) په لاره کې جنگېږي؛ نو د شیطان له ملگرو سره وجنگېږئ او باوري اوسئ چې د شیطان دسیسې په حقیقت کې ډېرې کمزورې دي.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ٦/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر ۳مه**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۲مه**

**د فسبوک لپاره:** د کارتړپور بندر د پرانېستې مراسمو ته د من موهن سینگ رابللو یو ځل بیا ثابته کړه، چې له ټرمپ او مودي سره د باجوه ـ عمران رژیم یووالی له هر څه لوړ دی.